

# په بانک کې حساب پرانیستل

د سویډن په یو بانک کې د حساب پرانیستلو لپاره باید تاسو خپل هویت څرګند کړای شئ او په دې اړه پوښتنو ته ځواب وواياست چې ولې یو بانکي حساب ته اړتیا لرئ. لاندې په دې اړه لارښوونه شوې بانک ستاسو څخه د بانک یو دفتر ته د مراجعې په وخت د کومو مالوماتو غوښتنه کوي.

## پېژندنه

تاسو باید تل د یو معتبر سویډني د هویت سند په وسیله خپل هویت څرګند کړای شئ.

1. تاسو کولای شئ چې د یو معتبر سویډني د هویت سند د مثال په توګه د هویت کارت یا بانکي هویت (BankID)، په ذریعه خپل ځان معرفي کړئ. تاسو د سویډني د موټر چلوني جواز په واسطه هم ځان معرفي کولای شئ.
2. که چېرې تاسو سویډنی د هویت سند نه لرئ نو کولای شئ د بهرني هېواد د پاسپورټ یا د بل ډول انځور لرونکي د هویت سند په وسیله چې ستاسو تابعیت په ډاګه کوي، خپل هویت څرګند کړئ. دا سند باید د یو دولتي اداري یا بل صلاحیت لرونکي مقام لخوا صادر شوی وي. پام وکړئ چې امکان لري بانک ستاسو څخه د نورو اسنادو ښودلو غوښتنه هم وکړي.
3. که چېرې تاسو د هویت معتبر سند نه لرئ نو باید یو بې طرفه او باوري سرچینې لخوا صادر شویو نورو اسنادو په وسیله څرګنده کړئ چې تاسو څوک یاست او د کوم هېواد وګړي یاست.

## د بهرنیو هېوادونو زده کوونکي

که چېرې تاسو د بهرني هېواد څخه راغلي زده کوونکي یاست، باید په پورته ډول خپل هویت څرګند کړای شئ. پرته له دې لاندې اسنادو ته هم اړتیا لرئ:

- اقامه یا ویزه (د اروپایي ټولنې وګړو پورې اړه نه لري).
- د هغې پوهنتون لخوا د داخلې پرېکړه چېرې چې زده کړه په دوامداره توګه روانه وي.

## بانکي حساب ته اړتیا

تاسو باید روښانه کړی شئ چې ولې بانکي حساب ته اړتیا لرئ او د بانکي حساب څخه به په کوم ډول ګټه پورته کوئ.

د بېلګې په توګه امکان لري چې د خپل کار یا بل ډول معاش ذخیره کولو، د کور د کرایې تحویلولو یا د پیسو ساتلو په موخه بانکي حساب ته اړتیا ولرئ.

امکان لري بانک نورې پوښتنې هم ولري ترڅو د مشتري په حیث ستاسو په اړه نور مالومات ترلاسه کړي.

## د بانکي حساب درلودلو حق...

د دولت لخوا په بانک کې د ځینو شویو پیسو د ساتلو ضمانت د پوښښ لاندې یو بانکي حساب پرانیستلو موقع په عمومي توګه د ټولو وګړو لپاره مساعده ده. تاسو دې ته له پامه پرته چې تاسو د کوم هېواد تابعیت لرئ او یا دا چې تاسو سویډني ځلور شمېره لرئ او که نه د دې حق څخه برخمن یاست.

## ...خو په ځینې شرایطو کې بانک باید د حساب پرانیستلو غوښتنه رد کړي

بانک په لاندینیو شرایطو کې حساب نشي پرانیستلی:

- که چېرې بانک تاسو په یوه مطمینه توګه ونشي پېژندلای.
- که چېرې بانک دې نتیجې ته ورسېږي چې د بانکي حساب پرانیستلو مقصد په اړه ستاسو له خوا وړاندې شوي مالومات بسیا نه کوي.
- که چېرې بانک د بانکي حساب پرانیستلو په پایله کې د قانون کومه ماده یا مقرره د پښو لاندې کوي.

همدا راز که چېرې تاسو له دې مخکې د بانک سره د چل ول نه کار اخیستی وي نو بانک حق لري چې د حساب پرانیستلو غوښتنه رد کړي.

## لاندیني ټکي په پام کې وساتئ ...

- تاسو باید وکولی شئ چې د بانک پوښتنو باندې پوه شئ او ځواب یې وړاندې کړئ.
- همدا راز باید تاسو د بانک لخوا وړاندې شوي مالوماتو باندې پوه شئ.
- که چېرې تاسو اړتیا لرئ چې څوک ستاسو خبرې وژباړي نو د بانک سره د لیدو په وخت یې له ځانه سره راولئ.
- بانک به تاسو څخه پوښتنه کوي چې د خپلو پیسو مدرک څرګند کړئ.

- د بانک سره په دې اړه یوه موافقه درلودلو څخه پرته بل هیڅوک هم باید ستاسو د بانکي حساب او د نورو بانکي خدمتونو څخه ګټه پورته نکړي.
- بانک کولی شي چې نورې پوښتنې یا غوښتنې هم ولري.

## نور مالومات

د نورو مالوماتو لپاره مربوطه بانک سره اړیکه ټینګه کړئ.

نورو مالوماتو ته په لاندې ځایونو کې هم لاسرسی لرئ:

### د سویډن پارلمان:

د پیسو وینځلو او د تروریزم د تمویل څخه د مخنیوي قانون (2017:630). نور مالومات دلته ولولئ
www.riksdagen.se

### د سوداګریزو معاملو د څارنې اداره:

د سوداګریزو معاملو د څارنې د اداري د پیسو وینځلو او د تروریزم تمویل څخه د مخنیوي مقررات.
نور مالومات دلته ولولئ www.fi.se

### د سویډن بانکونو اتحادیه:

د بانکونو لخوا د پیسو وینځلو او د تروریزم تمویل څخه د مخنیوي تدابیرو په اړه مالومات. نور مالومات دلته ولولئ www.swedishbankers.se

### د سویډن د دولتي پور اداره

اړه په بانک کې د پیسو ساتلو تضمین په اړه نور مالومات دلته ولولئ
www.riksgalden.se